**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د چین د وحشیانو تر سیوري لاندې د ختیځ ترکستان کړکېچ




**(ژباړه)**

هېڅ داسې ظلم او انساني جنایت نه دی پاتې، چې د چین ملحد دولت به پر ایغور مسلمانانو نه وي کړی. په ۱۱۷۴هـ.ق یا ۱۷۶۰م کال کې د چین په واسطه د ختیځ ترکستان له اشغاله، ددې خاورې له یو میلیون ډېر مسلمانان په ډېر وحشیانه ډول وژل شوي دي. ان چین چې اوس په نړیوال موقف کې له امریکا سره سیالي او د نوي او پرمختللي دولت ادعا کوي، اوسنی حکومت یې له خپلو جنایتکارو نیکونو سره، چې له یوه میلیون ډېر مسلمانان یې په وحشیانه توګه وژلي، هېڅ توپیر نه لري؛ بلکې د چین اوسنی حکومت پر وژلو سربېره، مسلمانان په خپل دین کې په فتنه کې اچوي.

په تېرو لسیزو په ځانګړي ډول په دغو وروستیو کلونو کې د چین دولت د الله سبحانه وتعالی له دین سره په جګړه، پر مسلمانانو په تېري او د مسلمانانو د حقونو په تر پښو لاندې کولو او له بندیګنو یې په انکار، له ټولو سرو کرښو تېر شوی او د چین په ځانګړي ډول د ختیځ ترکستان د مسلمانانو په حق کې یې ډېر ظلم کړی دی. تر ټولو بد هغه قوانین دي، چې ددغو مسلمانانو پر وړاندې یې ظلم ته قانوني مشروعیت ورکوي:

۱ـ د روژې په مبارکه میاشت کې د فرضي روژې پر نیولو بندیز.

۲ـ په ختیځ ترکستان کې د سړیو پر ږیره او د ښځو پر حجاب بندیز.

۳ـ په نویو ماشومانو د هغو نومونو د ایښودلو بندیز، چې د مسلمانانو له دین او عقیدې سره اړوند وي لکه: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او حماسي نومونه چې د جهاد او مجاهد معنا ورکوي.

۴ـ د هغو کسانو بندي کول، چې خپل زامن د اسلامي شعایرو لکه: لمونځ، روژې او اخلاقو زدکړې ته هڅوي.

۵ـ دکورنیو پر مشرانو دولتي ښوونځیو ته د خپلو زامنو لېږل او د کورنیو د تنظیمولو د سیاستونو زده کول، چې د مسلمانانو د ورک کولو په موخه په پام کې نیول شوي دي، لازمي دی.

۶ـ د دین پر اساس د ودونو پر کولو بندیز.

۷ـ د ختيځ ترکستان اوسېدونکي د دولتي چارواکو له خبر پرته د سفر او تګ راتګ د محدودولو لپاره، دولت ته د خپل پاسپورټ په سپارلو مکلف دي.

۸ـ د مسلمانانو له هغو کارونو د خبرېدو په موخه د مسلمانانو په کورنو کې د جاسوسانو ګمارل چې دوی یې له اسلامي ژوند سره په تړاو په خپلو کورنو کې ترسره کوي. ددې لپاره چې دولت وکولی شي د مسلمانانو له کړنو څخه خبر شي او له هغو سره سم اقدامات ترسره کړي. د چین د دولت له لوري نور نقض شوي موارد دا دي، چې چین د مسلمان اوسېدونکو پر وړاندې په عام توګه او د ختيځ ترکستان د مسلمانانو پر وړاندې په خاصه توګه اقدامات کوي.

هغه مسلمانان چې نن یې پر وړاندې جنګېږي، د اسلامي پیغام او غوره تمدن خاوندان دي. شخصیتونه یې داسې صیقل شوي چې د امانتدارۍ، ریښتینولۍ، پاکۍ او د رحمت غوره شخصیتونه دي.له مسلمانانو سره د چین د دولت په ادعا چې شورشیان او اوباش یې بولي جګړه نه کېږي؛ بلکې ددې لپاره له مسلمانانو سره جګړه کوي چې دوی د غوره امت غوره انسانان دي او د بشر د لارښوونې لپاره ټاکل شوي او حالت یې د لوط علیه سلام د قوم غوندې دی چې داسې به یې ویل:

**(أَخْرِجُوهُمْ مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ)**

[اعراف: 28]

***ژباړه:*** *دوی له خپل ښار او کلي وباسئ، دوی داسې خلک دي چې پاکلمنې غواړي(له موږ سره همغږي نه دي)*

چینایان له مسلمانانو سره پر دین، صداقت او لویی باندې کینه کوي. پر مسلمانانو د چین د ملحد دولت زورواکي د دوی په ادعا چې تروریست دي نه ده؛ بلکې دوی چې پر شکنجه او عذاب باور لري دا زورګویي د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې له صلیبي یرغل پرته بل څه نه دي، هغه یرغل چې د زورواکی راس(امریکا) یې رهبري کوي.

پر دې سربېره چې د ختيځ ترکستان مسلمانان ترکي اصلیت لري، د اسلام او مسلمانانو په تړاو د ترکیې د حکامو ظلم او نفرت د چین تر حکامو کم نه دي. د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جګړه کې د ترکیې حکامو له امریکا سره لاس یو کړی دی. که د ترکیې حکامو له اسلام سره کومه وفاداري او دوستي لرلی او ان که د نژاد پرستي یو ارزښت هم پکې وی، د ترکیې خلکو او اردو به د ختيځ ترکستان د مسلمانانو فریادونو ته د ځواب توان درلودلی. د ترکیې خلک او اردو یې چین، اسلام او مسلمانانو ته په احترام او ان جزیي ورکولو ته اړ کولی شي، هماغه شان چې پخوانیو یې داسې کړي وو.

همدارنګه د چین له پولو سره هستوي کاونډی دولت پاکستان، د ترکستان د مسلمانانو وضعیت یوه داخلي چاره بولي، د پاکستان اوسنی ولسمشر وايي چې د پاکستان حکام پر هغه څه چې د چین ظالم حکام یې ترسره کوي، باور لري او د خپلو ورونو او کاونډیانو د حقونو په تر پښو لاندې کولو باندې یې د چین په جنایتونو غوږونه او سترګې پټې کړي دي. هو! د پاکستان دولت و چې کشمیر یې له هېڅ قېمت پرته په هغو کسانو وپلورلو، چې له چین څخه یې څو ځلې کم ځواک او کمزورې اردو درلوده. داسې حکام څنګه چین له خپله ظلمه منعه کولی شي، په داسې حال کې چې دوی خپله د چین غوندې ظالمان دي.

د چین حکامو! پر مسلمانانو د مزدرو او ډارنو حکامو پر واقعیت مه غولېږئ او په خپله ګمراهي باندې ټنګار مه کوئ، ځکه د مېلیاردي امت واقعیت له خپلو حکامو سره توپیر لري. په دغه امت کې تر اوسه خیر شته او په همدې دلیل د امریکا په مشرۍ د غربي کفارو ځواکونه په ټول سرعت د امت پر وړاندې جګړه پیل کړې ده او د مسلمانانو ټیټ پوړي چارواکي هم ورسره ملګري دي او تاسې هم د خپلې سیاسي ناپوهۍ او جهالت له مخې د هغه غوره امت پر وړاندې ودرېدئ، چې د خلکو د لارښوونې لپاره ټاکل شوي دي. تاسو هغه زبر ځواک هېر کړی چې نه په اوږدمهال او نه په لنډ مهاله کې مو ګټې ګواښلې دي، په پوهې او ناپوهۍ سره د امریکا له موخو غافله شوي یاست، د هغه واقعي دوښمن له موخو چې په کمین کې درته ناست دی او شپه او ورځ چل او فریب درسره کوي، هغه دوښمن چې که هر وخت وغواړي، له خاورو سره مو خاورې کولی شي. خپلې جنګي بېړۍ په حرکت راولي او په اصطلاح د هغو پیسو په مقابل کې یې خپل غلامان ګرځولي یاست چې پرې د چاپ شوو مرکبونو ارزښت هم نه لري. ایا تاسې هماغه سیاسون یئ، چې ځان د صدارت او چوکۍ لایق ګڼئ. تاسې هغه کسان یې چې پر کمزور زورواکي او د مکارۍ کیدړې پر وړاندې ذلیلانه فرمان برداري کوئ یا شرم نه کوئ او له خپلې ګمراهۍ څخه نه اوړئ.

اې د چين حکامو! خبر اوسئ چې د نبوت پر منهج دويم راشده خلافت به د الله سبحانه وتعالی په خوښه ډېر ژر تاسيس شي چې درنه د ځاځکو توی کړيو وينو او هغو عزتونو چې تر پښنو لاندې مو کړي، حساب اخلي. مخکې تر دې چې وخت له لاسه ورکړئ، له خپلو جنايتونو لاس واخلئ، ځکه خلافت د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وينا د ځمکې پاچاهانو ته ويل:

**«أسلموا تسلموا" فإن أبيتم فإنّ عليكم إثمكم وإثم من تبعكم من الغاوين»**

*__ژباړه:__ اسلام راوړئ چې سالم پاتې شئ، که نه ستاسو او د هغو ګمراهانو مسئوليت مو پر غاړه دی، چې له تاسو پيروي کوي.*

تاسو ته بل څه نه وايي. موږ مو د خپلو کارونو له پايلې خبروو. ستاسي له جنايتونه څخه يوازې يو جنايت بسنه کوي، چې د امت پر دين او عزت د تېری کوونکو پر وړاندې د اسلامي امت له خوا کورنۍ جګړه پيل شوې. تاسې بايد د مسلمانانو له تاريخه درس واخلئ او په ياد ولرئ، چې زموږ خليفه معتصم بالله د يوې ښځې د فرياد په خاطر چې روميانو بندي کړې وه او د وامعتصما نارې يې وهلې، يو ښار فتحه کړ. خليفه وليد بن عبدالملک د «دبيل» بحري غلو ته، چې د «داهر» پاچاهانو په خبر يې جنايت کاوه، خپل قومندان محمد بن قاسم ته يې د «سند» د فتحه کولو امر وکړ او په ۹۰هـ.ق کال کې دغه قومندان ۱۸ بېړۍ له غنيمتونو، لامبووهونکو(دريانوردان)، مسلمانو ښځو او سورلۍ سره وژغورلې. زموږ قومندان قتيبه بن مسلم باهلي مو هېرکړی، څوک چې تاسو اړ کړ څو خپل قسم پوره کړي او پادشاهان مو وټاکي او پرخاوره مو قدم کېښود او تاسو ذليلانه جزيه ورکوله.

**له الرايه جريدې اخيستل شوې**

**ليکوال: بلال المهاجر**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ۲۳مه**

**۲۰۱۹م، د جنوري ۳۰مه**

**ژباړن: زمری دوست**